مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۲/۰۳/۲۸

# «زما نوی کال په نوي غم پيلیږي»

**«... غبرګ غوړونه مې کانه دي**

**سږ مې زنګ د ښونځي اورېدای نه شم**

**سږ پر لور د رڼا پل ایښودی نه شم**

**سږ مې دواړه پښې پرې دي**

**سږ مې بندې د مکتب ښنې دروازې دي**

**اخی زړه کې مې د درد ستنې کړې دي...»**

(آمنه فنا)

**د نجونو د تعلیم مخنیوی که څوک د ښځینوو د ستر د خوندیتوب له پاره کوي، دا کار ناسم دی، د نجونو د تعلیم مخه نیول په حقیقت کې د خپل هېواد د ښځینوو د ستر لیلامول دي. که نجونې مو تعلیم ونه کړي، تاسو به سبا په خپل کور کې نه ډاکتر ولرئ او نه هم د بلې کومې داسې برخې متخصصه چې د هغې کار ستا د کور د ښځینوو ستر خوندي کوي.**

**که ته په خپل کور، کلي، ښار او وطن کې ښځینه ډاکتره ونه لرې، سبا به ستا د خپل کاله زنانه ناروغه د ګاونډي نارینه ډاکتر پر میز باندې پرته وي او پردی نارینه ډاکتر به بیا تا ته وایي چې د باندې ودرېږه چې زه خپل مریض معاینه کوم، دا یې یوه بېلګه ده.**

**اوس دې هغه ښاغلي چې د نجونو د تعلیم مخه نیسي، خپله سوچ وکړي چې د نجونو د تعلیم مخه نیول به نورې څه ناوړه پایلې ولري؟**

په افغانستان کې نوي واک ته رسېدلي خلک د نړیوالو، سیمیزو او ملي غوښتنو خلاف، د نجونو له پاره له ښپږم ټولګي لوړې زدکړې وځنډولې او د ښوونځیو دروازې یې د زدکونکو پر مخ وروتړلې. د افغانستان تر اته نوي سلنې ډېرو خلکو د دې کړنې په مقابل غږ پورته کړ، چا ارام او چا توند غبرګونونه وښودل. نړیوالو هم په خپل وار سره د دې کړنې په مقابل کې رنګارنګ غبرګونونه وښودل هیله یې څرګنده کړه چې طالبان لږ نور هم رانرم شي او د نجونو د ښوونځیو دروازې بېرته پرانیزي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د دې تر څنګ ګڼشمېر فرهنګیانو او قلموالو هم د مقالو او شعرونو په خپرولو سره خپل غبرونه اوچت کړل او په عادي او هنري ډول یې د خپل زړه خبرې خلکو او نړیوالو ته وړاندې کړې. د دغو قلموالو په ډله کې یوه هم آمنه فنا ده.

زه آمنه فنا نه پېژنم، خو دلته هلته مې یې کله، کله ځیني شعرونه لوستي دي. تېر کال مې کله چې «د ښځو سملاسي مشاعرې، د ښځو د زړه غږ او د استعدادونو د غوړېدنې ښه پته» ترسرلیک لاندې یوه مقاله ولیکله، د هغو مشاعرو یوه ګډون کونکې همدا آمنه فنا وه چې په یادو مشاعرو کې یې پوره ونډه درلوده. په یادو مشاعرو کې یې د څو راغلو بیتونو بېلګې وړاندې کوم:

یو سپېڅلی بغاوت مې زړه غوښتلو
ما کړې ماتې زولنې درپسې راغلم

ای زمـا د لـوغـړنې مینې یاره
وهم چیغې او نارې درپسې راغلم

بېلېدل مې درنـه نه شي ای وجوده
لکه سیوری درپسی، درپسې راغلم

زما د اوښکو باران تم نه کړلې لارې
پـه ژړا تـر دروازې درپسـې راغلم

ها چې ځان دې رانه هېر کړ هغه ته وې؟
چې د زړه لـــه دریـــڅـــې درپسې راغلم

د شعرونو یوه ټولګه یې «د طوبی تر سیوري لاندې» نومېږي چې یو ځل مې چېرې یوازې د کتاب پوښ له نظره تېر شوی دی، خو د لوستلو چانس مې یې تر اوسه نه دی پیدا کړی.




په همدې ورځو کې چې د افغانستان او نړۍ د میډیا ډېره برخه، په افغانستان کې د نجونو د ښوونځیو پر تړلو غږېږي، غبرګونونه ښیي او انتقادونه کوي، آمنه فنا هم خپل پروتست او انتقاد کړی دی، خپل غږ یې په هنري ډول د شعر په ژبه جګ کړی دی، د ښځو د حقونو تر پښو لاندې کېدل او له زدکړوځخه د نجونو راګرځول یې په خپل یو ټوته شعر (پرې وزرې) کې په خورا ښه او هنري ډول انځور کړي دي او د نجونو او ښځو مظلومیت یې ښودلای دی.

د خپل وطن، خلکو په تېره نجونو او ښځو د درد بیان به په دې ډول ډېرو لږو قلموالو کړی وي، د خپل حق د غوښتلو له پاره به تر دې لوړه او سوځنده چیغه چېرته وي:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

# پرې وزرې

راروانه پسرلیه

ته به راشې په زرغونو قدمونو

خو زما سترګې ړندې دي

زما سترګو کې اغزي راټوکېدلي

ټول حواس مې کنګل شوي

نه دې وینمه رنګونه

نه دې وږم حس کومه

راروانه پسرلیه

څه لمن، لمن موسکا به درسره وي

په سپېرو دښتو به یې ویشې

هر ونه به سینګار کړې لکه ناوې

ور په غاړه به امیل کړې د ګلونو

جوړ وجود به یې دوکان کړې د عطرونو

په بورا او په بلبلو به اختر وي

او د شاتو د مچیو به لښکر وي

عسلي شپېې به ژوند ته ور ډالۍ کړې

درمیینه به د سپیني خولې سپوږمۍ کړې

پر اوږه به دې څادر د بوډۍ ټال وي

خامک کړی به فطرت درته دستمال وي

راروانه پسرلیه

ما وې زه به غم د تېر کال درته ژاړم

ماوې زه به مې زړه تا ته تشومه

خو زه څه خبره ومه

چې مې نوی کال په نوي غم پیلېږي

په تنکي فصل د هیلو مې

وحشي ږلۍ ورېږي

زما اوښکې به لومړی باران د کال وي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

نړېدلی به مي بل د زړه دېوال وي

راروانه پسرلیه

ته پوهېـږې؟

ما ته سپیني ورځي تکي توري شپې دي

رانه سپیني د الوت وزرې پرې دي

ها وزرې چي مي هیلي له تیارونه تر رڼا وې

ها تیکری سپین د مکتب مي یادومه

ها چي اوس مي ترې رڼې اوښکې څڅېږي

ها چي اوس لکه کفن راته ښکارېږي

غبرګ غوړونه مي کاڼه دي

سږ مي زنګ د ښونځي اورېدای نه شم

سږ پر لور د رڼا پل اېښودی نه شم

سږ مي دواړه پښې پرې دي

سږ مي بندي د مکتب ښني دروازې دي

اخ زړه کي مي د درد ستني کړې دي

راروانه پسرلیه!

په خدای نور مي له خپل ذاته کرکه کېږي

خدایزده موږ څنګه موجود یو

چي زموږ له وینېدو، له پوهېدونه

دا یو څو انسانان دومره ډېر ویرېږي

که زه پوهه شم که خدای وپېژنمه

که خپل ځان او که خپل ځای وپېژنم

وایه څه جهان به ړنګ شي، وایه څه تاوان به وکړي

چي په جهل نه، په پوهه مي شرمېږي

دوی له هغه ذات چي علم یې را فرض کړی

ښه پوهېږي؟ که په دې هم لا نه پوهېږي؟

آمنه فنا




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ